2 017550 139621

# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


دوشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۹مه | ۶۱۳مه ګڼه

## ولایت

۴ مخ

### غور

په دغه ولایت کې له ۸۰۰ ډېر ښوونځي فعال دي. د دې ښوونځیو د زده کوونکو شمېر ۲۰۰ زرو ته رسېږي، چې ۷۰ زره یې نجونې دي او د تدریس چارې یې د ۴۴۰۰ ښوونکو لخوا مخ ته وړل کېږي.



# سوله او د غور خونړۍ پېښه؛

## حامد کرزی: د غور برید ظالمانه و او دا له افغانانو سره ښکاره دښمني ده



۳

د جګړې دوام او دوه زیانونه ۲ مخ

مذاکرات صلح کلمبیا چه درس‌هایی برای افغانستان دارد؟ ۲ مخ

ښکېل اړخونه باید د وخت حساسیت درک کړي! ۳ مخ

## کرنې وزارت: په بلخ کې د کروندګرو او خصوصي سکتور ترمنځ ۱۵۰ قراردادونه لاسلیک شول





د کرنې وزارت له دویم ملي لومړیتوب څخه د ملاتړ برنامې «SNaPP۲» په همکارۍ او هڅو د بلخ ولایت د پنبې کروندګرو او په دغه ولایت کې د خصوصي سکتور ترمنځ ۱۵۰ کرنیز قراردادونه لاسلیک شول. د یادو قراردادونو پر بنسټ د بلخ ولایت د شولګرې، نهرشاهي، دهدادي، بلخ او دولت اباد ولسوالو ۱۵۰ هغه کروندګر چې د پنبې کرکېله کوي، ۹۰ زره او ۶۱۹ کیلوګرامه د پنبې دانې د څلورمیلیونه او ۵۳۰ زره او ۹۵۰ افغانیو په ارزښت پر یوه صنعتي شرکت پلوري. دغه راز خصوصي سکتور ژمنه کړې، چې په دغو قرادادونو کې شاملو ټولو بزګرانو ته به د پنبې د ناروغیو او افتونو په هکله روزنې او تخنیکي سلا مشورې ورکوي، د دوی له کروندو څخه د پروسس تر مرکزه دوی ته ترانسپورتي چوپړونه هم وړاندې کوي.

چارواکي وایي، د دغو قراردادونو د لاسلیک موخه لوړ ارزښت لرونکو کرنیزو محصولاتو ته تلپاتې بازارموندنه، کارموندنه او د کلیوالو بزګرانو د عوایدو زیاتول دي.

## د بشري حقونو کمېسیون: حکومت دې د جرمي شبکو او ډلو پر وړاندې جدي اقدامات وکړي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د ژوند کولو حق، له جسمي، روحي او رواني پلوه د هېوادوالو امنیت د بشر بنسټیز حقونه دي او حکومتونه د نړیوالو ژمن‌لیکونو پر بنسټ مسوول دي چې د خپلو هېوادوالو د امنیت ټینګولو لپاره، له هغو جرمي او د ټولنیز نظم ګډوډوونکو سره قانوني چلن وکړي چې د خلکو ژوند، امنیت او هوساینه له خطر سره مخامخ کوي.

دغه کمېسیون د هېواد په پلازمېنه او یو شمېر نورو ښارونو کې د جرمي پدیدو او جنایي جرمونو پر زیاتېدو ژوره خواشیني څرګنده کړې او له امنیتي بنسټونو څخه یې غوښتنه کړې چې له مجرمینو سره باید جدي قانوني چلن وکړي او په دې توګه د هېوادوالو د سر او مال خوندیتوب تضمین کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په کابل سربېره، د هېواد په ډېریو لویو ښارونو کې وسله والې غلاوې، سرې تښتونې او نور جرمونه په بې مخینې ډول زیات شوي دي. کابل ښاریان وایي چې هره ورځ په دغه ښار کې وسله وال د چړو او وسلو په زور له خلکو مبایلونه، پیسې او نور توکي اخلي او ان ډېرې وختونه یې له لوټلو وروسته وژني هم، خو حکومتي چارواکي بیا یوازې ژمنې کوي او د دغو جرمي شبکو په له منځه وړلو کې پاتې راغلي دي.

## د دوحې له تړون څخه سرغړونه به امریکا ته ناوړه پایلې ولري





۵ مخ

## مشرانو جرګه: تا زمانی که فشارهایی بیشتر بر پاکستان وارد نشود، صلح در افغانستان تامین نمی گردد



برخی اعضای مشرانو جرگه می گویند تا زمانی که فشارهایی بیشتر بر پاکستان وارد نشود، صلح در افغانستان تامین نمی گردد.


این در حالیست که گفتگوهای صلح میان افغانان بیش از یک ماه پیش در قطر آغاز شده است، اما هنوز دو طرف روی طرزالعمل گفتگوها به توافق نرسیده اند. حکومت پاکستان حمایت شان را از گفتگوهای صلح میان افغانان اعلام کرده است.

گلالی اکبری نماینده مردم بدخشان در مشرانو جرگه در نشست دیروز این جرگه بدون ارایۀ جزئیات گفت که هم اکنون زخمیان گروه طالبان در شفاخانه های پاکستان تداوی و تحت مراقبت قرار دارند و از سوی آنها حمایت می شوند.

وی افزود: «تا زمانی که پاکستان از حمایت گروه طالبان دست نکشد، صلح در افغانستان تامین نمی شود.»

او از جامعه جهانی به خصوص ایالات متحده امریکا خواست تا برای تامین صلح در افغانستان بر پاکستان فشارهای لازم وارد کند. انارکلی هنریار عضو دیگر این جرگه نیز پاکستان را به برخورد دو گانه متهم کرد و گفت: «شواهد نشان می دهد که پاکستان در جنگ هلمند دخیل بوده است و اجساد باقی مانده از آنها بیانگر این موضوع است.»

وی ضمن نگرانی از افزایش جنگ پس از آغاز مذاکرات صلح در دوحه، خواستار وارد کردن فشار بیشتر بر پاکستان از سوی جامعه جهانی شد تا از مداخله در امور افغانستان دست بکشد.



## دریځ

# د جګړې دوام او دوه زیانونه

د غور په مرکز کې په یوه موټر بم چاودنه کې ۱۵ کسان وژل شوي او تر سلو ډېر ټپیان دي. وژل شوي او ټپیانو ډېری ملکي وګړي دي. موټر بم چاودنه امنیه قوماندانۍ ته څېرمه شوې ده. کومې ډلې د دغه برید پړه پر غاړه نه ده اخیستې او طالبانو هم په دغه برید کې د لاس لرلو یا نه لرلو په اړه څه نه دي ویلي. له دې سره په ډېرو ولایتونو کې د پولیسو پر پوستو د طالبانو د بریدونو خبرونه ورکړل شوي دي. طالب وياند ذبیح الله مجاهد هم پر خپل ټویټر د پولیسو پر ځینو پوستو د بریدونو او د امنیتي ځواکونو د وژلو ادعاوې کړي دي.
تمه وه او داسې ژمنې هم کېدلې چې د امریکا او طالبانو تر هوکړې وروسته به تاوتریخوالی بند او یا هم کم شي. وروسته بیا ویل کېدل چې د بین الافغاني خبرو له پیل سره به تاوتریخوالی کم شي، خو له بده مرغه ونه شول. که څه هم طالبانو ویل چې پر لویو ښارونو بریدونه او هلته چاودنې نه کوي، خو له بده مرغه د ناامنۍ پېښې لا هم خورا زیاتې دي. پر لویو ښارونو هم بریدونه کېږي، لویې چاودنې کېږي، موټر بم بریدونه کېږي، پر پوستو بریدونه کېږي او ګڼې نورې پېښې هم شته. طالبان په شدید یرغلیز حالت کې دي او دا له هغه څه سره توپیر لري چې طالبانو یې ژمنه کړې وه او یا یې اوس وایي. حکومت هم له بده مرغه تحریک کوونکې کړنې کوي، دوی چې د جګړې زور هم نه لري او آن نه شي کولی چې خپلو امنیتي ځواکونو ته پر وخت مرستې ور ورسوي، د جګړې خبرې کوي او د سولې پر ځای جګړې ته تمایل لري.
د جګړې او تاوتریخوالي دوام دوه لوی زیانونه لري: لومړی دا چې د دې جګړې او تاوتریخوالي قربانیان تر ډېره ملکي وګړي او په ټوله کې افغانان دي. دا جګړه چې یوازې افغانان پکې وژل کېږي او نور ټول بهرنیان پکې خوندي دي، په هېڅ ډول د توجیه وړ نه ده. د غور د پرونۍ او نورو پېښو تصویرونه زړه بورنوونکي دي او د هر افغان زړه په هغو ښځو، ماشومانو او بې ګناه کسانو دردېږي چې په هلمند، غور او نورو پېښو کې زیانمن شوي، ټپي شوي، وژل شوي او بې کوره شوي دي. دویم دا چې د جګړې او تاوتریخوالي دوام به د سولې پر خبرو منفي اغېز وکړي. دا سمه ده چې د سولې روانې خبرې د دې پر ځای چې د دواړو اړخونو په خوښه او رضا روانې وي، تر ډېره د امریکا په خوښه او فشار مخ ته ځي، خو چې کله د سولې خبرې وي، نو طبیعي ده چې تاوتریخوالی باید کم شي. که دا جګړه او تاوتریخوالی یو مخ د سولې خبرې له خنډ سره مخ نه کړي، نو لږ تر لږه پر سوله‌ییزه فضا به منفي اغېز وکړي، خبرې به سختې، اوږدې او لانجمنې کړي.
دواړو اړخونو ته پکار ده چې پر افغان ولس، پر خپلو خلکو او هېوادوالو رحم وکړي. دوی باید جګړې او اور دا څپه ختمه کړي. پکار ده چې پر سوله تمرکز وکړي او پرې نه ږدي چې لا زیات افغانان د دې جګړې په اور کې وسوځېږي.

# مذاکرات صلح کلمبیا چه درس‌هایی برای افغانستان دارد؟

بی بی سی فارسی

توافق جامع بین دولت کلمبیا و شبه‌نظامیان انقلابی کلمبیا موسوم به فارک در سال ۲۰۱۶ یکی از مشهورترین نمونه‌های مذاکرات سیاسی برای پایان دادن به منازعه درازمدت است که چگونه یک روند جامع صلح می‌تواند به ریشه‌های خشونت توجه کند و منجر به یک توافق سیاسی شود.
انستیتیوت صلح آمریکا اخیراً با همکاری سفارت افغانستان در واشنگتن یک برنامه آنلاین راه اندازی کردند که در آن شماری از کارشناسان آمریکایی و کلمبیایی که تجربه شرکت در روند صلح کلمبیا را نیز داشته‌اند، صحبت کردند.
به گفته برگزارکننده‌های این برنامه، در این مرحله حیاتی روند مذاکرات صلح افغانستان، مهم است که از نمونه‌های مذاکرات صلح در دنیا درس بگیریم. اگرچه منازعه داخلی در کلمبیا و افغانستان از بسیاری جهات متفاوت است، با آنهم کلمبیا یک نقطه مرجع مهم است که می‌تواند برخی از بینش‌های ارزشمند و یک نقشه راه را برای مذاکرات صلح افغانستان فراهم کند.
اگرچه یک مدل استاندارد واحد برای مذاکرات صلح وجود ندارد، اما تجزیه و تحلیل روندهای تاریخی، درک کاربرد آنها و شناسایی فرصت‌های سازگاری با زمینه‌های خاص می‌تواند در روندهای مشابه مفید واقع شود.

تجربه مذاکرات صلح کلمبیا چه درس‌هایی برای افغانستان دارد؟
در منازعه افغانستان و کلمبیا شباهت‌هایی وجود دارد؛ از نظر شورش درازمدت، مواد مخدر و دخالت کشورهای منطقه در بحران و سپس مشارکت در رسیدن توافق صلح مشابهت‌هایی وجود دارد.
رویا رحمانی، سفیر افغانستان در واشنگتن در آغاز این برنامه گفت که برای صلح واقعی باید اعتماد ایجاد شود و کل جامعه دخیل شوند. او افزود که اکنون سطح خشونت‌ها بالاست.
در حملات اخیر در هلمند، هزاران زن و مرد و کودک آواره شده‌اند. او گفت، وقتی از وزنه خشونت در مذاکرات صلح استفاده شود، اعتماد بوجود نمی‌آید و روندها پیچیده‌تر می‌شود.
سرجیو جورمیلو، مشاور در انستیتیوت صلح اروپایی و کمیشنر پیشین کلمبیا در این برنامه صلح گفت که مانند افغانستان که چهار دهه درگیر جنگ و منازعه است، کلمبیا پنج دهه با شورش و منازعه درگیر بوده، پیام اصلی از کلمبیا این است که دستیابی به صلح عملی و شدنی است.
او گفت: «هر دو جامعه کلمبیا و افغانستان پیچیده هستند و قربانی‌های زیادی داده‌اند، در کلمبیا میلیون‌ها نفر قربانی شدند و جامعه دچار ترومای پس از بحران است. به گفته او باید به اقتصاد جنگ فکر شود. رابطه صلح و سیاست مهم است، صلح همیشه قسمتی از بازی قدرت بوده است.»
ساندرا رامیرز، سناتور و عضو پیشن فارک نیز گفت که وجود جنگ‌سالاران یک مشکل مشابه در کلمبیا و افغانستان است.
او گفت، در توافقنامه هاوانا برای ختم منازعه در کلمبیا، قربانیان در مرکز توافق‌ها مورد توجه قرار گرفتند. اراده سیاسی نیاز است که به تعهدات عمل شود. سطح اعتمادی باید ایجاد شود که بالاتر از جریان‌های سیاسی باشد.
به گفته او، تجربه کلمبیا نشان می‌دهد که توافقنامه صلح پایان کار نیست، بل‌که یک روند طولانی در جریان است.
اراده سیاسی از هر دو جانب نیاز است.
اپوزیسیون باید دیگر به عنوان دشمنی که از بین برد، دیده نشوند.
او گفت که توافقنامه صلح در کلمبیا شش نکته اساسی را مدنظر قرار داد: «بازگرداندن زمین‌ها به افراد روستایی، اعتمادسازی، مشارکت سیاسی برای ساختن دموکراسی، پایین آوردن سطح خشونت زبانی علیه همدیگر، آتش‌بس و این‌که در نهایت شورشیان تبدیل به حزب سیاسی شوند.»

مالکیت روند صلح و بحث حضور یا عدم حضور میانجی

در مذاکرات کلمبیا، میانجی حضور نداشت، در مذاکرات جاری صلح افغانستان در دوحه نیز دو طرف با دخالت میانجی‌گران مخالفت کرده‌اند.
دگ نایلندر، مدیر بخش صلح و مصالحه در وزارت خارجه ناروی و نماینده پیشین ناروی در کلمبیا درباره حضور میانجی در مذاکرات صلح کلمبیا گفت، از آنجایی که مالکیت نتیجه گفتگوهای صلح برای هر دو طرف مهم بود، هم دولت کلمبیا و هم فارک حضور میانجی در مذاکرات را رد کردند تا مالکیت روند صلح را برای خودشان حفظ کنند.
هر دو جانب طرف‌های مستقیم برای تنظیم اجندا و پیشبرد بحث‌ها بودند.
به گفته او، نبود میانجی در آن گفتگوها سبب شد که هر دو جانب احساس کنند که بر روند گفتگوهای صلح کنترل دارند و نسبت به نتایج گفتگوها نیز احساس مسئولیت کنند.
به عقیده او، معنای حضور نداشتن میانجی در گفتگوهای دولت و فارک به این معنا نیست که تسهیل‌کننده و میانجی در مذاکرات خوب نیست.
در مذاکرات کلمبیا میانجی رسمی نداشتیم، اما کوبا و ناروی به عنوان تسهیل کننده‌ها فعال بودند.
این دو کشور تسهیل‌کننده دو طرف را راهنمایی می‌کردند. این دو کشور البته بی‌طرف بودند و تنها کمک کردند که روندهای مذاکرات به نتیجه برسد. ناروی مثلاً کارشناسان کشورهای مختلف را که تجربه منازعه و مذاکرات صلح را داشتند، برای مشورت‌دهی گردهم آورد.
از طرف دیگر، برای اعتبار و مشروعیت‌بخشی به روند مذاکرات، جامعه مدنی کلمبیا و سازمان‌های غیردولتی بین‌المللی گردهم آمدند تا کمک کنند که هم صدایشان شنیده شود و هم به روند مذاکرات اعتبار داده شود. چرا که در این نوع مذاکرات در یک جانب یک دولت کاملاً آشنا به روندهای مذاکرات است و در طرف دیگر، یک گروه شورشی ناآشنا است. تسهیل کننده‌ها برای تهیه سند توافقنامه صلح کلمبیا نیز که مدت زمان زیادی را در بر گرفت، کمک کردند.

نقش کشورهای همسایه

نقش کشورهای همسایه در به ثمر رسیدن گفتگوها در کلمبیا مهم ارزیابی شده است. آقای جورمیلو گفت که با توجه به تجربه کلمبیا بازتعریف روابط با همسایگان و بسیج کشورهای همسایه در روند صلح مهم و اساسی است. در مورد افغانستان فکر می‌کنم حمایت کشورهای همسایه از صلح خیلی مهم است.
به گفته این کارشناس نارویژی صلح، پیام گفتگوها این بود که صلح کلمبیا صلح در منطقه است، به گفته او همین پیام نیز از مذاکرات صلح افغانستان شنیده می‌شود. ناروی و کوبا نقش طرف سوم را بازی کردند که مورد اعتماد هر دو جانب قرار گرفتند.

حقوق اقلیت‌ها

هومبرتو دلا کال، مذاکره کننده ارشد دولت کلمبیا و معاون پیشین رئیس جمهور این کشور نیز در این برنامه گفت که کلمبیا هم ترکیبی از مردم مختلف است، در توافقنامه صلح مکانیزم‌های مشخصی برای حقوق اقلیت‌های خاص سنجیده شد. تمرکز اصلی بر قربانیان و در مرحله بعد تمرکز بر عدالت اجتماعی مثل برگرداندن زمین‌ها به مردم و خانواده‌ها مورد توجه قرار گرفت.
به گفته او، در گفتگوهای صلح، توجه ویژه به مناطق آسیب دیده شد، زنان، که قربانی خشونت و منازعه بودند، نیز مورد توجه قرار گرفتند.

کاهش سطح خشونت‌ها

کارشناسان این برنامه تاکید کردند که در مورد کلمبیا هرچه روند صلح بیشتر پیشرفت می‌کرد، خشونت‌ها نیز کاهش می‌یافت.
در افغانستان نیز در حالی که در دوحه مذاکرات صلح جریان دارد، باید متوجه وضعیت جنگ هم باشیم.
برخی از کارشناسان گفتند، در حالی که طالبان تا هنوز فکر می‌کنند که در میدان جنگ پیروز خواهند شد، رسیدن به صلح خیلی دشوار خواهد بود.
سناتور رامیرز تاکید کرد که آتش بس دایمی وقتی عملی است که اعتماد به صلح و اراده سیاسی بوجود بیاید.

منازعه داخلی کلمبیا چگونه آغاز و ختم شد؟

در واکنش به حملات گسترده ارتش در ماه می سال ۱۹۶۴ به جوامع خودمختار کوچک محلی در جنوب کلمبیا یک جنبش کمونیستی به نام نیروهای مسلح انقلابی کلمبیا، فارک (FARC) تاسیس شد که حدود نیم قرن با دولت مرکزی این کشور جنگید.
دولت کلمبیا کمک‌های زیادی از آمریکا برای سرکوب شورشیان و مبارزه با مواد مخدر دریافت می‌کرد. شورشیان فارک در دو کشور همسایه کلمبیا، اکوادور و ونزوئلا پناه‌گاه در اختیار داشتند.
کلمبیا همواره ونزوئلا را متهم به کمک به شورشیان فارک می‌کرد.
به عقیده ناظران، درآمد مواد مخدر و حمایت ونزوئلا سبب دوام شورش فارک شده بود. پنج دهه منازعه در کلمبیا به رشد جنگسالاران، گروه‌های شبه نظامی، مافیای موادمخدر و شبکه‌های جرم و جنایت انجامید.
فارک یک جنبش روستایی بود اگرچه به سوی شهرها نیز نفوذش را گسترش داد. منازعه کلمبیا ۲۶۰ هزار کشته و به آوارگی حدود هفت میلیون نفر از جمعیت ۴۹ میلیونی کلمبیا انجامید.
در سپتامبر ۲۰۱۶ پس از چهار سال مذاکره، خوان مانوئل سانتوس، رئیس‌جمهور کلمبیا و تیمولیون خیمه‌نز معروف به تیموچنکو رهبر فارک توافق تاریخی صلح را امضا کردند و هفته بعد طرح صلح به همه‌پرسی گذاشته شد.
بیش از ۵۰ درصد مردم کلمبیا در یک همه‌پرسی با طرح اولیه صلح به خاطر امتیازات زیادی که به فارک داده شده بود، مخالفت کردند. طرح تعدیل شده صلح در کنگره کلمبیا به اتفاق آرا تصویب شد. در توافقنامه جدید گروه فارک تعهدات بیشتری داد، از جمله پرداخت غرامت به قربانیان و فاصله گرفتن از قاچاق کوکائین و مواد مخدر.

# په کندهار هوايي ډګر کې د بهرنیو ځواکونو د الوتکې له بېړنۍ ناستې وروسته ټولې الوتنې ځنډېدلې



په کندهار هوايي ډګر کې د بهرنیو ځواکونو الوتکې بېړنۍ ناسته کړې چې له امله یې د رن وې یوه برخه ویجاړه شوې او ټولې ملکي او نظامي الوتنې ځنډېدلې دي.
د بهرنیو ځواکونو ویاند سوني لګیټ د یوې خبرپاڼې په خپرولو ویلي چې د امریکا متحده ایالتونو د هوايي ځواک یوې ګلوب ماسټر C-17 الوتکې پرون سهار د کندهار هوايي ډګر پر رن وې بېړنۍ ناسته کړې ده.
هغه زیاته کړې، دا بېړنۍ ناسته د تخنیکي ستونزې له امله وه چې کوم مرګ ژوبله او زیان نه لري، خو ده یادونه کړې چې پېښه تر څېړنې لاندې ده.
په ورته وخت کې د کندهار هوايي ډګر مسوول مسعود احمد پښتون رسنیو ته ویلي چې د بهرنیو ځواکونو د الوتکې د بېړنۍ ناستې له کبله د رن وې یوه برخه ویجاړه شوې ده، له همدې امله ټولې ملکي او نظامي الوتنې ځنډېدلې دي.
هغه زیاته کړه، د رن وې د بیارغونې کار پیل شوی چې شاوخوا ۷۲ ساعتونه وخت به وغواړي. دی وايي، تر هغو چې رن وې جوړېږي، له دغه هوايي ډګر څخه به الوتنې ځنډېدلې وي.
دا په داسې حال ده چې له طالبانو سره د شوې هوکړې له مخې، امریکا له کندهار څخه هم خپل ډېری پوځیان ایستلي او هلته یې د خپلو نظامي اډو د ویجاړولو کارونه چټک کړي دي.

# ښکېل اړخونه باید د وخت حساسیت درک کړي!

لیکنه: عبدالوحید وحید

هېواد ته د سولې د راوستلو په موخه په قطر کې بین الافغاني ناسته دوام لري، خو د مذاکراتو لپاره د طرزالعمل جوړولو په جریان کې د اوسني بن‌بست له امله د ولس د هیلو غوټۍ په رژېدو دي. وخت په خورا تېزۍ سره زموږ له لاسه وځي، خو داسې نه ښکاري چې اړوندو اړخونو د وخت پر حساسیت باندې سرونه خلاص کړي وي، که اوسنی حالت دوام مومي او د هوکړې څرک نه ښکاري، نو شونې ده چې په تکراري توگه به موږ د یوه بل بُن د تپل شوي تړون په ځنځیر وتړل شو او یا به هم په یوه بله کورنۍ جگړه کې ښکېل شو.

د امریکا او طالبانو تر منځ د هوکړې مرموز اړخونه، د ارگ لخوا د سولې ضد څرگندونې، پر متنازعه مواردو باندې د متبادلو لارو له وړاندیز پرته د طالبانو بېځایه ټینگار او په لومړي بین الافغاني مذاکراتي پړاو کې دومره اوږد بن‌بست رامنځ ته کېدل ښیي، چې د ښکېلو اړخونو لخوا د «افغانانو په مالکیت او مشرتوب» (Afghan Own Afghan Led) خبره تش شعار و، چې نړیوالو ومنل؛ خو خپله افغانان د وړتیا نه لرلو له امله په کې پاتې راغلل.

لامل یې هم دا دی چې زموږ اوسني ډېری مشران د ولسونو له منځه نه دي را ټوکېدلي، بلکې راوړل شوي او یا هم د توپونو د غړمبهار په منځ کې له جنگي روحیې سره په انفعالي توگه جوړ شوي دي.

له امریکا سره د لاسلیک شوي تړون پر بنسټ، د بین الافغاني مذاکراتو پر مخ بیولو باندې د طالبانو ټینگار هم پوښتنې راولاړوي، چې په دغه تړون کې داسې څه ځای شوي دي چې طالبان ورته دومره زیات ارزښت ورکوي، چې کابو یوه میاشت یې د مذاکراتو لړۍ له ننگونو سره مخ کړې او په حکومتي لوري باندې یې یوازې په یادولو تبه راځي. امریکا عادتاً د تړونونو په متن کې همدغه شان پېچلي او مبهم توري کاروي چې د اړتیا پر مهال یې هغه ډول تعبیر کړي، چې د نوموړي هېواد گټې خوندي کړای شي.

دا چې د تړون ځینې برخې له ولس سره نه دي شریکې شوې، نو شونکې په دې باور دي چې په پټ متن کې د غني په حذف، گډ او یا هم موقت حکومت جوړولو باندې توافق شوی دی. د ولسمشر غني، صالح او نورو ارگ مېشتو له جارحانه طرز خبرو څخه داسې ښکاري چې له واک څخه د لاس په سر کېدلو خبرې اندېښمن کړي دي.

قطر ته د ولسمشر او تقریباً د ټولو ارگ مېشتو نابېره سفر، هلته د امریکا د لوړپوړو چارواکو شتون، د خبرو نامعلومه اجنډا او د چارواکو لخوا په مختلفو پلمو د سولې په تړاو د خلکو ذهنیتونه گډوډول، هغه خطرناک ویروس دی چې یقیناً به زموږ هېواد ورڅخه د رغېدو تاب ونه لري.

د هېواد سیاسي، امنیتي او اقتصادي وضعیت په چټکتیا سره مخ پر ښکته روان دی، حکومتي چارواکي د خپلو دندو د تر سره کولو پر ځای یوازې د خپل واک د بقا او فساد په فکر کې دي، د ورځنیو امنیتي پېښو په تړاو د ولسمشر او مرستیالانو چوپه خوله شرموونکی انځور وړاندې کوي، د بېکارۍ کچه تر اسمانه رسېدلې، ځوانان له هېواد څخه تېښتې ته اړ شوي، فساد ورځ تر بلې زیاتېږي، نا امني د ولس خوب حرام کړی، ودانیزې پروژې په ټپه ولاړې دي، غلاوې، شوکې او اختطاف ورځنی معمول گرځېدلی، هدفي وژنې او چسپکي ماینونه خو اوس څوک تازه خبر نه گڼي؛ خو ولسمشر بېچاره لا هم په درونډ خوب ویده دی، وایي ټول افغانستان ما جوړ کړی دی.

دا به له ولس او هېواد سره ستره جفا وي چې په بین الافغاني مذاکراتو کې ولسمشر غني له طالبانو څخه د حکمتیار په څېر سوله وغواړي، د جمهوریت او لاس ته راوړنو په بهانه پر خپل واک باندې د منگولو خښولو هڅه وکړي او د طالبانو لخوا د واک د انحصار روحیه خپلول به په افغانستان کې د یوې نوې بدمرغۍ پیل وي، په داسې صورت کې یقیناً ویلای شو چې د دواړو خواوو غوښتنې به بورنوونکې پایلې ولري.

زه باور لرم چې که ولس غني له اوسنۍ ارگاه بارگاه سره نه غواړي، نو طالبان هم د شل کاله پخوا په څېر اتلسمې پېړۍ په چوکاټ کې نه زغمي.

طالبانو ته مو توصیه دا ده چې ترانې پرېږدئ! جذبات سپېځلي وي، خو همیشه حقیقت نه وي، د احساساتو له ژور سمندر څخه راووځئ، د دیوال لیکونه ولولئ! د الهي احکامو په رڼا کې د خپل ولس مجبوریت او مظلومیت درک کړئ، په خپلو خلکو باور وکړئ. ولس په حکومتي ادارو کې له شته فساد، ظلم، ناخوالو، گډوډیو، نا انصافي تبعیض او تعصباتو څخه تر ستوني پورې رسېدلی دی. له حکومتي اړخ سره په پرتله ستاسو په لیکو کې د فساد کموالی، له دین سره ستاسو د ژمنتیا لوړه کچه او له ملي گټو سره ستاسو نسبي برتري هغه څه دي چې په ډېرو مواردو کې ولس ستاسو پلوي کوي. دغه ډول ولسي ملاتړ ستاسو لخوا له ولس سره د ښو اړیکو ښکارندوی نه دی، بلکې د حکومتي اړخ نیمگړتیا او فساد دی چې ولس یې د بد او بدتر تر منځ د بد انتخاب ته اړ کړی دی، تاسو لاهم په ملي او نړیواله کچه د سیاست په لوړو ژورو، کړلېچونو او گنډونو کې د سمون او بدلون لپاره ډېر څه کولو ته اړتیا لرئ.

امریکا نولس کاله وړاندې پر افغانستان باندې یرغل وکړ، اوس د خوښۍ ځای دی چې امریکا وتلو ته اړ شوه، خو لکه څنگه چې حکومتي اړخ ته یې له ژمنو او تعهداتو سره سره لغته ورکړه او په سینه کې یې لاهو کړ، قطعاً وربانددې باور نه شي کېدای چې له طالبانو سره به هوکړو ته ژمنه پاتې شي، که په تېرو اتلسو کلونو کې دلته د امریکا راتلل او پاتې کېدل په یوه جمله کې را لنډ کړم، نو باید ووایم چې امریکا پر افغانستان باندې یرغل کولو او له افغان ولس سره په تعاملاتو کې خپله هم سهوه شوې وه، ځان یې هم وشرماوه او موږ یې هم تباه کړو، زموږ وال هم وربانددې سهوه شوي وو، لنگه غوا یې ورڅخه جوړه کړې وه، خو د امریکا غولول هم اسانه کار نه دی، اوس یې بله هوکړه او غوړې ژمنې کړې، خو بیا هم سهوو ته دوام ورکوي.

البته که حکومت او طالبان دواړه د واک په سر له مستقیم او غیر مستقیم ټکر څخه ځان وساتي، د جگړې پر ځای پر ارزښتونو، ملي گټو او ولسي ښېگڼو باندې تمرکز وکړي، شته ملي، سیمه ییزو او نړیوالو حساسیتونو او ترینگلي سیاسي وضعیت ته د واقعیتونو په هینداره کې وگوري، د ولس زخمونه، دردونه او هیلې درک کړای شي، د مخالف لوري د منلو زغملو، حق ورکولو او په دغه شریک هېواد کې د سولې او ورورولۍ په فضا کې د ارام ژوند او کار کولو هوډ ولري، نو د یوه ازاد، اباد، ښېرازه او پرمختللي افغانستان خوب ته مو تعبیر پیدا کېدای شي، خو که په جگړه کې ښکېل اړخونه د اوسني وضعیت حساسیتونه درک نه کړي، د افغانیت د واحد شعار پر ځای د ژبې، قوم، گوند، سمت، جنس، نسل او مذهب په نوم د امتیازاتو لپاره غوښتنې مطرح کېږي، نو یقیناً ویلای شم چې د جگړو له امله زموږ ماته بېړۍ به په دغه توره شپه او توپاني هوا کې د نجات ساحل ته په رسېدو کې پاتې راځي او ملت هم لاس تر زنې نه کېني.

# سوله او د غور خونړۍ پېښه؛

## حامد کرزی: د غور برید ظالمانه و او دا له افغانانو سره ښکاره دښمني ده



د سولې له پڅو هڅو سره هممهاله او په هېواد کې د خونړیو جگړو په دوام په غور ولایت کې درنې چاودنې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله واړوله. د وروستیو راپورونو له مخې، په پېښه کې ۱۲ کسان وژل شوي او تر سلو ډېر نور ټپیان دي. چاودنه پر ملکي ادارو شوې ده، افغان حکومت یې تر شا د طالبانو لاس بولي او په خبره یې، دوی په لوی لاس د سولې لار بندوي. ولسمشر غني او پخواني ولسمشر حامد کرزي او تر څنگ یې په کابل کې د نړیوالو ادارو مېشتو استازولیو دغه پېښه غندلې ده.

تېره ورځ غرمه مهال شاوخوا ۱۱ بجې د غور ولایت مرکز فیروزکوه درنې چاودنې و لړزاوه. عیني شاهدان وایي چې چاودنه خورا درنه وه، تر لرې پرتو سیمو یې غږ اورېدل شوی او تر څنگ یې د فیروزکوه ښار د ودانیو، دولتي ادارو او ښوونځیو ښیښې ماتې شوې او چاودنې ته نږدې ودانۍ زیانمنې شوې دي. په دغه ولایت کې مېشت خبریالان وایي چې پېښه د شهداوو او معلولینو، امنیه قوماندانۍ او ښځو چارو ریاستونو ترمنځ شوې ده. پېښه داسې ځای شوې چې د یادو دریواړو ودانیو دروازې ورته نږدې دي او په سیمه کې لسگونه کسان د خپلو کارونو د مخ ته بېولو لپاره راغلي وو.

ځینې سرچینې په پېښه کې د ۱٦ کسانو، ځینې د ۱۳ او کورنیو چارو وزارت بیا د ۱۲ کسانو د وژل کېدو خبره کوي. د غور ولایت روغتیايي چارواکي وایي چې د پېښې له سیمې ۱۳ جسدونه او ۱۰۵ ټپیان ور وړل شوي. د غور ولایت د عامې روغتیا د سرپرست عبدالطیف رحیمي په خبره: «موږ ته ۱۳ شهیدان او تر ۱۰۵ پورې ټپیان راوړل شوي دي. د یو شمېر ټپیان روغتیايي وضعیت ښه نه دی، دوی تر جدي مراقبت لاندې دي، نو ښایي د شهیدانو شمېر زیات شي».

د راپورونو له مخې، په ټپیانو کې بیا تر ډېره ملکي وگړي شامل دي. وروستۍ شمېرې ښیي چې د غور ولایت د تېرې ورځې په چاودنه کې له ۱۰۵ ټپیانو ۳۵ یې امنیتي کسان او پاتې نور ټول ملکیان دي. که څه چې کومې ډلې تر اوسه د دغه برید مسوولیت نه دی منلی، خو د کورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین دا د طالبانو کار بولي او په خبره یې، په دغه برید کې یادې ډلې گڼو ملکي وگړو ته تلفات اړولي دي.

په فیروزکوه کې د پېښې عیني شاهدان وایي چې چاودنه خورا درنه وه او تر لرې پرتو سیمو یې غږونه اورېدل شوي دي. عیني شاهد عبدالوکیل وایي، دفتر سره یې نږدې شاوخوا ټوله سیمه د انسانو غوښو او هډونو نیولې وه. د ده په خبره: «درنه چاودنه وشوه، له دفتره ووتم، په ټول واټ کې د خلکو د بدن ټوټې پرتې وې، لس- دوولس کسان مې ولیدل چې ټوټې ټوټې وو، ان ځاروي هم ټوټه ټوټه وو، ډېره وحشتناکه پېښه وه».

بلخوا ولسمشر غني بیا د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه پېښه غندلې او د غور ولایت والي ته یې امر کړی چې د ټپیانو په درملنه کې بېړنۍ همکاري وکړي. نوموړي دغه پېښه وحشتناکه بللې او په خبره یې، وسله وال طالبان په لوی لاس د بې باورۍ فضا رامنځ ته کوي او تر څنگ یې په دغه ډول کړنو د سولې رواني هڅې تخریبوي.

بلخوا پخواني ولسمشر حامد کرزي بیا یو ځل بیا پر ښکېلو لورو غږ کړی چې ژر تر ژره دې تاوتریخوالی کم کړي او د خپلو خلکو د خوندیتوب لپاره دې د پردیو تحمیلي جگړه پای ته ورسوي. هغه په غور او نورو ولایتونو کې د تاوتریخوالي پر زیاتېدونکي کچې اندېښنه څرگنده کړې او هغه یې د هېواد د راتلونکې په زیان بللې دي. د ده په وینا: ((په غور کې وروستی برید، ظالمانه و، د افغانانو پر وړاندې د جگړې په مانا ده، دا له افغانانو سره ښکاره دښمني ده)).

په غور او ځینو ولایتونو کې داسې مهال خونړۍ امنیتي پېښې رامنځ ته کېږي چې په دوحه کې لا هم بین الافغاني مذاکرات بې پایلې دي او دواړه لوري د مذاکراتو پر تگلاره توافق ته نه دي رسېدلي.

# ظریف: پر ایران د وسلو د بندیز پای ته رسېدل د نړیوالې ټولنې لپاره مهمه مسئله ده

ایران وایي، د ۲۰۱۵ز کال د اټومي موافقې له مخې پر دې هېواد د متعارفو وسلو د پېرلو په برخه کې د ملگروملتونو د بندیز مهلت پای ته رسېدلی دی.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت په یوه بیان کې، د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي موافقې له مخې پر دغه هېواد د متعارفو وسلو د پلور او پېر په برخه کې د ملگروملتونو د بندیز د مهلت د ختمېدو خبر ورکړی او ویلي یې دي چې له ایران څخه او ایران ته د وسلو پر لېږد او په دې برخه کې پر ټولو اړوندو فعالیتونو او مالي خدماتو محدودیتونه پرون (د اکتوبر په ۱۸مه) په اتومات ډول پای ته رسېدلي دي.

د دغو بندیز له پای ته رسېدو سره په اصولو کې ایران یو ځل بیا کولای شي چې متعارفې وسلې لکه ټانکونه، جنگي الوتکې او درنې توپخانې وپېري او وې پلوري.

په ورته وخت کې امریکا د دغه بندیز له پای ته رسېدو سره په کلکه مخالفت کړی او ویلي یې دي چې د ایران له خوا د وسلو پلور او پېر به د نړۍ امنیت له گواښ سره مخ کړي، خو د ایران د بهرنیو چارو وزارت په خپل وروستي بیان کې ویلي چې دا هېواد د وسلو پېرلو ته اړ نه دی؛ ځکه دفاعي تگلاره یې داسې ده چې باید پر خپلو خلکو او خپلو امکاناتو اتکا وکړي.

په بیان کې راغلي چې د ایران په دفاعي تگلاره کې غیرمتعارفې او د ډله ییزې وژنې وسلې ځای نه لري. له دې څرگندونو سره سره ولسمشر حسن روحاني او نورو چارواکو پر ایران د وسلو د بندیز د پای ته رسېدو نمانځنه کړې ده.

روحاني تېره اونۍ ووېل، پر ایران د وسلو لس کلن غیرعادلانه بندیز پای ته رسېږي او د اکتوبر له ۱۸مې وروسته دا هېواد کولای شي پر هر هېواد چې غواړي خپلې وسلې وپلوري او له هر هېواد څخه چې غواړي د خپلې خوښې وسلې وپېري.

د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف پر ایران د وسلو د بندیز پای ته رسېدل د نړیوالې ټولنې لپاره یوه مهمه ورځ بللې او پر ټویټر په یوه بیان کې یې ویلي چې له نړۍ سره په دفاعي برخه کې د ایران همکاري په سیمه کې د هراړخیز گډون، او د سولې او امنیت د ټینگښت هدف ته د رسېدو لپاره یوه بریا ده.

خو د بریا دا اعلان ښایي له وخته مخکې وي، ځکه چې ایران د امریکا د اقتصادي بندیزونو په گډون- چې په نتیجه کې یې دا هېواد د پیسو له کمښت سره مخامخ شوی، لاهم له خورا زیاتو محدودیتونو سره لاس گرېوان دی.


د یادونې ده چې ملگروملتونو په ۲۰۰۷ ز کال کې پر ایران د وسلو بندیز ولگاوه، خو د دغو بندیزونو لړۍ کېدل په ۲۰۱۵ ز کال کې د هغه تړون یوه برخه شوه چې ایران له امریکا، روسیې، چین، جرمني، برېټانیا او فرانسې سره لاسلیک کړ.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د زمينې برابرول




دې برخې دوام وکړ. يو سهار دواړه په يوه کنفرانس کې له يو بل سره نېږدې کېناستو، د (The Hindu) ورځپاڼې (ماليني پارداسراتي) حيرانه شوې وه، له همدې کبله يې پر خپل ټليفون زموږ عکس اخيستی و. دې ويل( ما دوه پيريان په يوه عکس کې سره يو ځای کړي.) دا ډېره د خندا وړ ښکارېده.
په همدې ناسته کې پيټر جونز وړانديز وکړ چې موږ بايد يو شی وليکو.
**دورانی:** يوه ګډه مقاله.
**دولت:** موږ د استخباراتي همکارۍ په اړه ګډه مقاله وليکله. جنرال صېب په لومړيو کې وويل چې که موږ فېکشن(خيالي کيسه) هم ليکلی، هېچا به باور نه و ورباندې کړی، خو زياته يې کړه: سمه ده، يوه هڅه به وکړو. دا مقاله په هندو او ډان ورځپاڼو کې پر يوه وخت خپره شوه. وروسته پيټر وړانديز وکړ چې موږ به پر کشمير هم يوه ګډه مقاله وليکو. هغه چې اوس د اوتاوا پوهنتون پر وېبسايټ خپره شوې.
**سېنها:** ستاسې ګډې مقالې ته غبرګون څه و؟
**دورانی:** امريکايي يوه (سټېف پي. کوهين) په مسبج کې راته ليکلي وو، چې پر استخباراتي همکارۍ زموږ مقالې نوموړی ډېر اغېزمن کړی. هغه د هند-پاکستان د چارو متخصص دی. له نورو ځايونو مې هم برېښناليکونه ترلاسه کړل.
**سېنها:** حکومتونه د دغه ډول مقالو او ناستو په اړه څه وايي؟
**دورانی:** هېڅ نه وايي.
دولت: زموږ اړخ ته هم همدا کيسه ده. له دې کبله چې جنرال صېب په نړيواله کچه مشهور و، سټيف کوهين ښايي زنګ ورته وهلی وي، خو ما ته هېچا هم زنګ نه دی وهلی.
**دورانی:** زه ډاډه يم ستاسې لوري ته هم خلک شته، لکه زموږ لوري ته چې خپه دي او وايي: دا سړي؟ دوی پر څه پوهېږي؟ دوی چې د خپل کار پر مهال يې هر څه په شاهانه ډول خراب کړل اوس د ترهګرۍ خلاف ګډ ميکانيزم او ګډ استخباراتي کار غواړي؟ دوی نوې لاره غواړي؟ دوی فکر کوي چې موږ نه يوازې شهرت غواړو، بلکې د بيا استخدام په لټه کې يوو.
حتی امريکايي فکري مرکزونه لکه د بروکېنګز انېسټېټيوټ چې يو مخکښ بنسټ دی، مقالې ليکي او د سنا کمېټو ته يې لېږي. که هغه څه چې دوی يې وايي د حکومت له تګلارو سره برابر نه وي، پام نه شي خپلولی. دوی وړانديزونه کوي، خو حکومت خپله تګلاره تعقيبوي او باور لري څه چې ترسره کوي، هغه سم دي. ډېر لږ که کوم راپور ولوستل او مرستندوی واقع شي.
دولت: دقيقاً همداسې ده. همدا هغه څه دي چې IDSA يا (اوس ويوکنېنډا فونډېش) ته ارزښت ورکوي، ځکه دوی پر يوه مشخصه لاره روان دي. دا تقريباً دولتي فکري بنسټونه دي.
**سېنها:** دوی د روان وضعيت ملاتړ کوي.
جنرال صېب، د مخالف لوري د استخباراتي ادارې له څو مشرانو سره تر ناستې پاستې وروسته، ښاغلي دولت ته په کومه سترګه ګورئ، يو هندي (پېری) او که خپلواک کس؟
دورانی: البته چې دی متفاوت دی. موږ ټول په خپله بڼه متفاوت يوو، خو دی له ډېرو اړخونو متفاوت دی.
تر ټولو وړاندې د هغه عملي تجربه ده. هغه د هند د استخباراتو په بېرو کې تر لسو کلونو ډېر د کشمير موضوعات څارلي، وروسته د RAW مشر شوی او بيا يې د لومړي وزير په دفتر کې کار کړی. دا چې هغه د هند د استخباراتي بيرو غړی و او بيا د RAW مشر ومنل شو، ښيي چې د هغه کړنلاره متفاوته وه. زه پوهېږم چې بنسټونه د نورو ادارو د هغو کسانو پر خلاف مقاومت کوي، چې د دوی برلاسي ننګوي. دوی غواړي چې دا له اجازې پرته ورغلي کسان ناکام شي. که داسې و نه کړي، د نورو ادارو د کسانو ورتګ په يوه عادي چاره بدلېږي. پر دې زه د شخصي تجربې پر بنسټ او په پوځ کې د کار کولو له لارې پوهېږم.
د هغه له کتاب څخه هم ښکاري چې نوموړی په يوې نظريې پورې نه نښلي. هغه د کشمير د قضيې په ژورو باندې پوهېږي، نه دا چې فکر وکړي اوس څه وکړو، دلته غبرګون، هلته متقابل عمل، د دې خلاف نوموړی لوی تصوير ګوري او هغه خلک دي. تاسې ښايي کشمير مديريت کړی يا يې له ځانه تېر کړی، خو بلاخره بايد يو څوک دوامداره حل پيدا کړي. ځکه خو دی وايي موږ بايد يو څه متفاوت ترسره کړو. زما ارزونه بيا دا ده چې موږ ښايي ډېر متفاوت څه ترسره نه کړو، له دې کبله نه چې موږ په کنده کې نښتي يوو، بلکې له دې کبله چې موږ له وړاندې پايلې د دولتي تګلارو په توګه ټاکلې، يوازې هڅه کوو چې څومره ممکنه ده، هغومره د دوام وکړي.
**دوام لري...**

# غور

حشمت الله نوري



غور د افغانستان له مرکزي ولايتونو څخه دی، چې د بيارغونې له پلوه وروسته پاتې ولايت ګڼل کېږي. د کابل په ٤٨٠ کيلومترۍ او د هرات، بادغيس، فارياب، سرپل، ارزوګان، هلمند، فراه او باميانو په ګاونډ کې پروت دی، خو له غوري دورې پاتې منار جام يې لرغونتوب زيات کړی دی.
غور ولايت يو غرنی ولايت دی، چې د جغرافيوي موقعيت له اړخه د شمالي عرض البلد په ۳۱ درجو او ۳٤ دقيقو کې او د ختيځ طول البلد په ۲۵ درجو او ٦٥ دقيقو کې موقعيت او د سمندر له کچې ۲۲۵۰ متره لوړوالی لري.
د دغه ولايت پراخوالی ۳۸٦۰۰ زره کيلومتره مربع ته رسېږي، چې د وګړو اټکلي شمېر يې ۳٦٦ زره تنه دی او له ۱۹۰۰ کليو څخه زيات په کې پراته دي.
د دې ولايت ډېری سيمې د زياتو غرنيو سيمو په درلودلو سره يو ډول موسم نه لري، ځينې يې ډېرې يخې او ځينې نورې يې بيا نسبتاً معتدلې او ګرمې دي.
خپله د ولايت مرکز چغچران بيا د اوبو او هوا له اړخه دوه اقليمه دی، چې په سوېل، ختيځ او لوېديځ کې يې هوا سړه او واورينه، خو په ژمي کې يې نښلوونکې لارې د پنځو مياشتو لپاره د ترافيکو پر مخ تړل کېږي.
په عمومي ډول د دې ولايت لوړې سيمې واورينې او يخې؛ خو ښکتنۍ او هوارې سيمې يې نسبتاً ګرمې دي.
ولسوالۍ
غور ولايت د مرکز په ګډون ۱۰ اداري واحدونه لري، چې مرکز يې د چغچران ښار او ولسوالۍ يې له تيوره، تولک، ساغر، پسابند، دولينه، شهرک، دولتيار، چهار سده او لعل وسر جنګل څخه عبارت دي.
د دې ولايت ډېری استوګن په دري ژبه خبرې کوي او تر څنګ يې هزارګي ژبه هم له دې امله په کې دود ده، چې دا ولايت له باميانو سره ګډه پوله لري.
د اوبو بندونه
په غور ولايت کې د اوبو بندونه نشته، خو د هريرود، فراه رود او مرغاب سيندونه په کې بهېږي. ټاکل شوې چې د چغچران په ګرماب سيمه کې د هريرود سيند له پاسه د اوبو يو ستر بند جوړ شي، چې نه يوازې د برېښنا د نشتوالي ستونزه به حل کړي، بلکې زرګونه هکتاره ځمکه به هم خړوبه کړي.
تاريخي ابدات
کله چې د افغانستان د تاريخي اثارو په اړه خبره کېږي، نو د منار جام تر هر څه وړاندې د سړي ذهن ته ورځي. دا جام د غور ولايت د شهرک ولسوالۍ د شمال- ختيځ په ٦۰ کيلومترۍ کې د جام په کلي کې موقعيت لري، چې د ملګرو ملتونو د فرهنګي سازمان يونسکو لخوا د نړۍ په تاريخي اثارو کې شمېرل شوی دی.
منار جام د غوريانو په دوره کې د سلطان غياث الدين غوري د سطلنت پر مهال رغول شوی، چې د لرغونې معمارۍ او لوړوالي له اړخه د هندوستان په ډهلي کې له قطب منار څخه وروسته د نړۍ دويم کم پيدا شهکار او منار ګڼل کېږي.
د دې ولايت د دولتيار ولسوالۍ له کشک کهنه سيمې څخه هم د بودايي دورې ( له ۲- ۵ ميلادي پېړۍ) اثار تر لاسه شوي، چې لرغونوالی يې له اسلام څخه زر کاله وړاندې ښودل شوی دی.
د غوري دورې تاريخي ابده (قلعه ملک عنتر) هم په تولک ولسوالۍ کې ده، چې يو وخت د غوريانو ستر مرکز و، چې چنګيز يې هم په نيولو نه و توانېدلی.
د دې ولسوالۍ له ګاوګش تاريخي سيمې څخه هم په بېلابېلو ځانګړو ليکنو او تصويرونو ښکلې شوې د سرو زرو سکې تر لاسه شوې دي، چې د غوريانو د تاريخي دورې نښې دي.
چغچران ته څېرمه د قلعه ضحاک په نامه هم يوه تاريخي سيمه شته، چې له تر لاسه شوو تاريخي اثارو څخه يې لرغونتوب اوو زرو کلونو ته رسېږي .
د غور ولايت د اطلاعات او فرهنګ رياست د څېړنو له مخې، په دغه ولايت کې د سلو په شاوخوا کې تاريخي سيمې ثبت شوې، خو لا هم زيات کار ته اړتيا ده، څو ټولې تاريخي سيمې ثبت شي.
موزيم
په غور کې هم د ځينو نورو ولايتونو غوندې موزيم نشته او تر لاسه شوي تاريخي اثار يې کابل ته لېږدول کېږي. اوسمهال څو تاريخي اثار د دې ولايت په اطلاعات او فرهنګ رياست کې ساتل کېږي او ټاکل شوې چې د رياست په اډانه کې يو موزيم هم جوړ شي.
په تېره يوه لسيزه کې د مجسمو او سفالي لوښو په ګډون، په سلګونو نور قلمي اثار په تاريخي ساحو کې د کيندنو له امله په لاس راغلي او وروسته بيا پاکستان او ايران ته قاچاق شوي دي.
د افغانستان د اساسي قانون د لومړي څپرکي د نهمې مادې له مخې، معدنونه او نور تر ځمکه لاندې تاريخي اثار د دولت شتمني ده، له دولتي شتمنيو څخه د ساتنې او د دې ترڅنګ له طبيعي زېرمو او نورو عامه ملکيتونو څخه سمه ساتنه د قانون له لارې تنظيمېږي.
مشاهير
غور ولايت له پخوانيو پاچاهانو پرته د شاعرانو او اديبانو کور هم دی، چې له دې ډلې څخه کولی شو د غلام حيدريګانه او مهاج السراج نوم واخلو، چې ډېر شعري اثار يې خپاره شوي دي.
د دې ولايت په ليکوالانو کې کولی شو د مستمند غوري، عبدالقادر امامي غوري، نبي ساقي، فضل فايق، محمد رسول فګار، سيد علي مشفق او علي عالمي کرماني نومونه ياد کړو.
رسنۍ
غور يو له هغو ولايتونو دی، چې په تېره يوه لسيزه کې يې په فرهنګي برخه کې ښه پرمختګ کړی. همدا اوس په دې فرهنګپال ولايت کې د ۲۱ په نامه مياشتنۍ، فيروز کوه، شنسب، سام، صدای غور مجله، پيام شهروند، فکر نو، انديشهٔ جوان، اراده مردم او ... نورې خپرونې فعالې دي.
د دې تر څنګ، يو دولتي راډيو- ټلوېزيون، يوه خصوصي راډيو او پنځلس بېلابېلې چاپي خپرونې فعالې دي، خو د ټلوېزيوني خپرونې په برخه کې يوازې د ملي ټلوېزيون خپرونې فعالې دي، چې په ۱۳۸۵ لمريز کال فعالې شوې او د شپې له اړخه د مرکزي ملي ټلوېزيون خپلې ريلې کوي.
سره له دې چې د صدای عدالت په نامه يوه خصوصي راډيو هم په کې فعاله ده، خو د رسنيو په برخه کې يوه ورځپاڼه هم نه لري، همداسې ښځو ته ځانګړې شوې کومه چاپي او غږيزه خپرونه هم نشته.
پوهنه
په غور ولايت کې له ۸۰۰ ډېر ښوونځي شته چې له دې ډلې ۱۸۰ يې د ښځو، ۱۵ يې ګډ او پاتې نور يې د هلکانو ښوونځي دي. د دې ښوونځيو د زده کوونکو شمېر ۲۰۰ زرو ته رسېږي، چې ۷۰ زره يې نجونې او د تدريس چارې يې د ٤٤۰۰ ښوونکو لخوا مخ ته وړل کېږي.
د دې تر څنګ، دوه تخنيکي انسټېټيوټونه، شپږ دارالمعلمينونه، دوې د کرنې ليسې، ۱۷ مدرسې او دارالعلمونه، ۱۰۵ کورنې ښوونځي، ۹۰ د نړيوال مشارکت ښوونځي او يو دارالحفاظ هم فعال دی.
يوه د لوړو زده کړو موسسه په ۱۳۹۱ لمريز کال پکې جوړه شوه، چې د ٤٥ نجونو په ګډون ۲٦۰ محصلين لري او په رياضي، فزيک، کمپيوټر، انګليسي، کيميا، بيولوژي او کرنې برخو کې زده کړه ورکوي.
صنعت
په غور ولايت کې ډېری لاسي صنايع په ښځو پورې اړوند دي، دوی غالۍ، ټغر، لمڅي او نور پشمونه چې د وزو او پسونو له وړيو جوړېږي، جوړوي.
د غور ښځې د دې تر څنګ د ځايي جامو لکه پيرهن، چپنو، چادرۍ، ښځينه او نارينه خوليو او نورو پر ګنډلو بوختې دي.
د تولک ولسوالۍ قالينچې يا وړوکې غالۍ ښه نوم لري، په دغو قالينچو کې د غور د پخوانيو پاچاهانو او منار جام تصويرونه نقش شوي وي.
د غور نارينه د بېل او کلنګ په څېر د کار وسايل جوړوي، چې په کرکيله کې ترې کار اخلي.
د دغه ولايت خرقې هم تاريخي اهميت لري، چې د غور په مرکزي سيمه الله يار کې ډېرې جوړېږي، لوړ کيفيت لري او تر ډېره يوازې شتمن کسان يې کاروي، ځکه چې بيه يې تر زرو افغانيو پورې رسېږي.
کرنه
غور يو کرنيز ولايت دی، چې د خلکو ډېرې اقتصادي اړتياوې يې له کرکيلې پوره کېږي.
د دې ولايت ډېر عمده کرنيز محصولات له غنمو، جوارو، کچالو، پيازو او د غوزانو په څېر وچو مېوو او د باقلي، لوبيا او ميو په څېر ځينو حبوباتو څخه عبارت دي.
مالداري هم په دې ولايت کې دود ده، چې اوسېدونکي يې پرې خپلې اقتصادي ستونزې حل کوي، کورت، وړۍ او پوستکي يې له مهمو حيواني محصولاتو دي.
د غور ډېرې سيمې غرنۍ دي، نو له همدې امله يې هوا هم په شمال کې يو ډول، خو په سوېل کې بيا بل ډول ده، د مرغاب ډېرې سيمې يې د مرغاب سيند له برکته شنې او سمسورې دي، ښکلې هوا لري او حتی د مرغاب ډېری ښوونځي هم د دې ولايت د نورو سيمو خلاف په ژمي کې فعال وي.
ورزش
ورزش په وروستۍ لسيزه کې په غور ولايت کې ښه وده کړې او اوسمهال په کې د نارينه وو لپاره د فوټبال، واليبال، تکواندو، باسکټبال، وشوو، کانګفو، تکواندو، کاراته، کيک بُکس، کورش(چپنکي غېږباسنه)، د بدن ښکلا، سپک اتلتيک (له مرمۍ سره منډه)، هندبال، شطرنج، سنوکر، کبډي او وزلوبې ۲۰ ورزشي فدارسيونونه فعال دي، چې تر ډېره په کې ځوانان لوبېږي.
په چغچران کې څو سالونونه او يو لوبغالی هم شته، چې په وروستيو څو کلونو کې جوړ شوي او ټاکل شوې په دې ولايت کې يو زرغون ميدان هم په روان لمريز کال کې جوړ شي.
د دې تر څنګ د ښځو لپاره په يوه جمنازيوم هم کار روان دی.
د دې ولايت ښځې د فوټبال، واليبال، تکواندو او باسکټبال په برخو کې فعاليت لري، چې شمېر يې تر ۲۰۰ کسانو پورې رسېږي.
خو د وزلوبې دوديزه لوبه په کې له ډېر پخوا نه دود ده، چې د خوښۍ په محفلونو او ملي ورځو کې تر سره کېږي.
په زړه پورې خو دا وه، چې څو کاله وړاندې به د صابرې په نامه يوې ماهرې چاپ اندازې د وزلوبې په سيالۍ کې برخه اخيسته، خو اوسمهال يې له لوبې لاس اخيستی او د غور ولايت د چهارسدې ولسوالۍ د ښځينه زندان د کارکوونکې په توګه دنده اجرا کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶.۹۰ |
| € | ۸۹،۵۰ |
| Rp. | ۴۷۷ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰.۵۵ |
| £ | ۹۸،۲۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶

۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

همیانۍ

# اووه هغه کارونه چې هوښیار انسان يې نه کوي

**ژباړه: عطامحمد میاخېل**

هوښیار انسانان په خپل کار او ژوند کې ځانګړي عادتونه لري او د ځینو کارونو له تر سره کولو ډډه کوي، چې په ژوند کې د هغوی د بریا او پرمختګ سبب ګرځي. د خپلو احساساتو درک کول، پر وړاندې يې مبارزه کول او د هغو کنټرولول د هوښیارو انسانانو ذاتي ورتیا ده، هغوی په خپل د ننه کې کینې او حسد ته ځای نه ورکوي او کولای شي، چې له احساسي شرایطو څخه وتښتي او تل مخ پر وړاندې تګ ته چمتو وي. د دې کسانو د خوشالۍ لاربښوونه، نه یوازې د هغوی په چلند کې، بلکې په هغو کارونو کې چې نه يې تر سره کوي، څرګندېږي.

موږ په همدې لیکنه کې درته اووه هغه کارونه ښیو، چې هوښیار انسانان يې نه تر سره کوي، لیکنه تر پایه ولولئ.

۱ـ د پیسو سپما کولو فرصت له لاسه نه ورکوي

د مالي مدیریت وړتیا د هوښیارو انسانانو یو له ښو عادتونو څخه دی، په دې برخه کې داسې ټکي شته چې باید ورته پام وشي. د بېلګې په ډول، د یوه اضافي فلټر لرونکي شیردان لګول، د تصفیه شویو اوبو بوتل ته اړتیا کموي او یا يې هم له منځه وړي او د هغه پیسې سپما کېږي.

۲ـ پر نورو باندې تکیه نه کوي

کله چې ستاسو په ژوند کې داسې کسان وي، چې کولای شی پرې تکیه وکړی، نو یوه ښه او په زړه پورې پېښه ده، خو کله چې هر وخت تاسو پر هغوی باندې حساب کوی، نو ستاسو د لا کمزورۍ کېدو سبب ګرځي.

تاسو کولای شی یو خلاق ذهن او پیاوړې وړتیاوې ولری او د کارونو د تر سره کولو لپاره د نورو په تمه ونه اوسئ، ښایي په پیل کې دا وېره ولری چې تېروتنه به وکړی، خو دا هرڅه د ازمویلو ارزښت لري، ځو د تل لپاره خپله دا ستونزه حل کړی او وکولای شی له خپلې وېرې سره مقابله وکړی.

۳ـ له هغه څه سره چې اصلاً يې نه خوښېږي، موافقه نه کوي

د (نه) کلمه واقعاً یوه پیاوړې او ځواکمنه وسیله ده، چې باید ترې ګټه واخیستل شي، کله چې تاسو د نویو ژمنو له منلو څخه ډډه کوئ، نو د دې فرصت لری څو له هغو سره چې دمګړۍ ورته لاسرسی لری، کار وکړی او په ښه توګه يې تر سره کړی.

خپل ارزښت وپېژنئ او له هغه څه سره چې نه مو خوښېږي، موافقه مه کوئ، پرته له دې به خلک له تاسو څخه ناسمه ګټه واخلي او تاسو به هم د خپل ځان په اړه ښه احساس ونه لرئ.

۴ـ پر خپلې غوسې باندې ټینګار نه کوي

له یوه بد او نا خوښه وضعیت وروسته غوسه او د منفي احساس تجربه کول یوه طبیعي چاره ده، له دې امله موږ د اروایي فشار (سټرس) پر وړاندې غبرګون ښکاره کوو، خو که یوه اوږده موده تېره شوې ده او تاسو لا تر اوسه خواشیني یاست، نو تاسو ته به زیان در ورسوي.

د منفي احساساتو را ټولېدنه او له هغو څخه نه مخنیوی، په دې مانا دي چې په تلپاتې توګه د اروایي فشار په حالت کې پاتې کېږی او هوښیار خلک هڅه کوي، چې مخه يې ونیسي او د غبرګون نه ښکاره کول به ستاسو د روغتیا د ضمانت لپاره یوه له اغېزناکو لارو څخه وي.

۵ـ پر چانس باندې تکیه نه کوي

په غوره ښېزونو باندې باور لرل او د بدو ښېزونو لپاره چمتو کېدل هغه عبارت دی، چې د ډېری انسانانو په اړه صدق کوي، هغه کسان چې پر چانس باندې باور او تکیه کوي او پر دې عبارت باندې ځان دوکه کوي، یو لاس پر بل لاس ږدي او وزګار پاتې کېږي، څو چانس او بخت د هغوی لپاره غوره ښېزونه رامنځ ته کړي، خو هوښیار کسان اجازه نه ورکوي چې ژوند يې د چانس پر بنسټ مخ ته لاړ شي او په خپله هېڅ کار ونه کړي.

۶ـ له خپلو ښو تصمیمونو څخه نه را ګرځي

هرڅوک حق لري چې سمه او جوړوونکې نیوکه وکړي، دا کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي، چې ولې ستاسو آیډیاوې یا محصولات د خوښې وړ نه دي، خو تاسو نه شی کولای له هغه څه څخه چې ستاسو لپاره مهم دي، لاس واخلئ.

دا رښتیا دي چې خلک په ډېرې آسانۍ ستاسو له تجربو څخه وېرېږي او غواړي چې ستاسو د پرمختګ مخه ونیسي. که غواړی د کاروبار یوه پروژه پر مخ بوځی یا د کوم څه په اړه یوه مقاله خپره کړی، ډېر فیډبکونه واخلئ او له جوړوونکو نظرونو څخه ګټه واخلئ او پر خپلو تېروتنو باندې کار وکړئ، خو اجازه مه ورکوئ چې خوبونه مو د نورو په نظرونو سره ودربېږي.

۷ـ په تېر کې ژوند نه کوي

د کوم څه د له لاسه ورکولو وړتیا باید د بریا لپاره وي، که تاسو یو څیز له لاسه ورکړی وي او ماتې مو خوړلې وي، وروسته له هغې مو خطره منلې او هڅه مو کړې ده، چې لا ډېر ښېزونه تر لاسه کړئ، حرکت وکړئ او له تېرو تېروتنو سره کوم کار مه لرئ، خو په یاد يې ولرئ چې تکرار نه شي.

# دانش: سټنډرډ اداره لا هم پر اداري فساد سربېره، ګڼې نورې ستونزې هم لري

د ولسشمرۍ مانۍ دویم مرستیال سرور دانش د افغانستان د نورم او سټنډرډ اداري په کړنو سختې نیوکې کړې دي. هغه په کابل کې د نورم او سټنډرډ د نړیوالې ورځې د نمانځنې په یوه غونډه کې وویل چې اداري فساد، د کاري ظرفیت نه موجودیت او د بودجې کمښت هغه مهمې ستونزې دي چې لاهم په دې اداره کې نه دي حل شوې.

دانش وویل، سره له دې چې په وروستیو کې د دغې اداري رهبري نوې شوې، خو په دې برخه کې لا هم جدي ستونزې شته.

هغه زیاته کړه: «ستاسو په اجازه غواړم ووایم چې تر اوسه چې کوم فعالیتونه د دې اداري لخوا ترسره شوي، هغه ډول چې ترې تمه کېږي نه دي، د نورم او سټنډرډ اداره اوس هم د خپلو لویو اهدافو ترلاسه کولو لپاره له جدي ستونزو سره مخ ده.»



دانش وایي، ټول هغه هېوادونه چې له افغانستان سره د سوداګرۍ په برخه کې اړیکې لري، له دغه هېواد څخه کیفیت لرونکي او په نړیوالو سټنډرډونو برابر تولیدات غواړي. د نوموړي په خبره، که د نړیوالو په معیار برابر صاداراتو ته اسانتیاوې برابرې نه شي، دا د افغانستان اقتصاد ته زیان دی.

د یادونې ده چې د نورم او سټنډرډ ملي اداره په ۱۳۸٦ لمریز کال کې په افغانستان کې جوړه شوه او له تېرو ۱۳ کلونو راهیسې په افغانستان کې د کورنیو تولیداتو د کیفیت، د نړیوالو سټندرډونو سره برابر صاداراتو او هېواد ته د بې کیفیته توکو د وارداتو د مخنیوي په برخه کې فعالیت کوي.

دغه اداره په ټول افغانستان کې نهه لابرتوارونه لري چې په ودانیزو او د نفتي موادو د ټېسټ په برخه کې فعالیت کوي.

د افغانستان د نورم او سټنډرډ ملي اداري رییس عزیز احمد احمدزی چې تازه د دې اداري مشرې ور تر غاړې شوې وایي، هغه ستونزې چې د دغه اداري پورې اړه لري په اړه يې جدي اقدامات پیل شوي دي.

هغه زیاته کړه: «موږ په پام کې لرو چې د لابرتوارونو په برخه کې ټولې اسانتیاوې په برېښنایي ټکنالوژۍ سمبالې کړو، د صادارتو په برخه کې په ټولو ولایتونو کې د لاربراتوارونو جوړول چې له عملي کېدو سره به يې د ټولو صادراتو او وارداتو کیفیت کنټرول شي.»

احمدزی وایي، د بې کیفیته موادو مخنیوی او فساد سره مبارزه په دې اداره کې جدي ده، خو هغه د بې کیفیته موادو د وارداتو په اړه کره شمېره نه لري.

د سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، یوازې په تېر کال لمریز کې د ٦ میلیارده ډالرو په اندازه توکي افغانستان ته وارد شوي چې یوه برخه يې خوراکي توکي دي.

# طالبان: د دوحې له تړون څخه سرغړونه به امریکا ته ناوړه پایلې ولري

طالبان وایي چې په هلمند کې د امریکایي ځواکونو هوایي بریدونه د دوحې له تړونه سرغړونه ده. دا په داسې حال کې ده چې امریکایي ځواکونو تېره اونۍ وروسته له هغې د هلمند په مرکز لښکرګاه کې پر وسله والو طالبانو هوایي بریدونه وکړل، چې طالبانو تر سختې جګړې وروسته د یاد ښار ځینې سیمې ونیولې.

د امریکایي ځواکونو ویاند سوني لګېټ هغه مهال رسنیو ته ویلي وو چې طالبانو پر لښکرګاه ښار پر بریدونو سره د دوحې له تړون څخه سرغړونه کړې ده.

خو وسله والو طالبانو بیا په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي چې د دوحې تړون له مخې امریکایي عسکر نه شي کولای له جنګي سیمې او د جنګ له وخته په نورو ځایونو کې بمبار وکړي او څوک په نښه کړي.




سرچینې زیاته کړې، په تېرو ورځو کې امریکایي ځواکونه د ورځې او شپې له مخې د ډرون او نورو الوتکو پر مټ د هلمند په نهرسراج، خوشکاوه، باباجي، د ګرشک ولسوالۍ په مالګیر او بند برق، د سنګین، مارجې، ناوې او نادعلي ولسوالیو په بېلابېلو سیمو کې بمباري کړې ده.

طالبانو ویلي چې دغه راز امریکایي ځواکونو په فراه او ځینو نورو ولایتونو کې هم بمباروونه کړي چې د دوحې له تړونه ښکاره او څرګند تخلف دی.

په خبرپاڼه کې راغلي، د طالبانو او امریکا ترمنځ د دوحې هوکړې ټول محتویات څرګند دي، خو مقابل لورې دا څووم ځل دی چې له تړونه سرغړونه کوي، په پاروونکو کړنو لاس پورې کوي او د جنګ له ساحې او د جنګ له جریانه پرته پر نورو سیمو کې بمباري کوي.

طالبانو ګواښ کړی چې د دغه راز بریدونو په تکرار سره به د عواقبو مسوولیت امریکایي جهت ته راجع وي.

د یادونې ده چې د هلمند له هوایي بریدونو وروسته په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال سکاټ مېلر ویلي وو چې طالبان باید ژر تر ژره په هلمند او نورو سیمو کې بریدونه ودروي. هغه زیاته کړې وه چې دغه بریدونه د دوحې د تړون خلاف دي او د سولې پروسې ته زیان رسوي.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

Maseer Daily
New Vision, New Journey
دوشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۲۸مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۱۹مه | ۶۱۳مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۲۵ | ۲۸ | ۲۵ | ۳۲ | ۲۴ |
| ۸ | ۶ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۹ | لمر ختل ۰٦:۰۱ | ماسپښين ۱۱:۳۹ | مازیگر ۰۲:۴۹ | ماښام ۰۵:۱۶ | ماخوستن ۰۶:۳۹


## نړۍ



## ظریف: پر ایران د وسلو د بندیز پای ته رسېدل د نړیوالې ټولنې لپاره مهمه مسئله ده

۳

## راپورونه: د ارمنیا او اذربایجان تر منځ دویم اوربند هم مات شوی او یوځل بیا نښتې پیل شوې



ارمنستان او اذربایجان یو او بل په لانجمنه سیمه نگورنو قره باغ کې د جگړو د درېدو په هدف له لگول شوي تازه اوربنده په سرغړونه تورن کړي دي.

د بشري چارو په خاطر دغه اوربند له ورمې شپې راهیسې نافذ شوی و. د ارمنستان دفاع وزارت وياندې ويلي، چې تېره ورځ سهار وختي د دوی «د دښمن له اړخه» د توغنديو او توپونو ډزې شوې دي.

بلخوا د اذربایجان دفاع وزارت د ارمنستان ځواکونه تورن کړي چې د تماس پر هغه کرښه چې دواړه سیال لوري سره جلا کوي، د هاوان ډزې کړې دي.

دا تورونه په داسې حال کې پورې کېږي، چې تر دې څو ساعته مخکې ارمنستان او اذربایجان ويلي وو، چې دوی پر یوه نوي اوربند موافقه کړې ده.

د اوربند په مخکينۍ هوکړه کې چې تطبیق نه شوه، د اوربند موده ۷۲ ساعته ټاکل شوې وه.

د یادونې ده چې د ناگورنو قره باغ جگړه نږدې درې اونۍ مخکې د سپتمبر په ۲۷ مه پیل شوه او تر اوسه پکې سلگونه تنه پوځیان او لسگونه ملکیان وژل شوي دي.

بلخوا، ملگرو ملتونو، اروپایي ټولنې، امریکا، روسیې او گڼو نورو هېوادونو پر دواړو لورو غږ کړی چې ژر تر ژره دې روانه جگړه د خبرو له لارې پای ته ورسوي.

## راپورونه: د پاکستان په شمال کې د ځمکې ښويېدنې په پېښه کې ۱۰ کسان مړه شوي دي

د راپورونو له مخې، د پاکستان په شمال گلگت سیمه کې د ځمکې ښويېدنې په پېښه کې لږ تر لږه ۱۰ کسان مړه شوي او پنځه نور ورک دي.

چارواکي وايي چې په دې پېښه کې یو میني بس موټر تر خاورو لاندې شوی او یاده مرگ ژوبله پکې اوښتې ده. د سیمه ییزو چارواکو په خبره، په دغه میني بس موټر کې ۱۵ کسان له راولپنډۍ څخه سکاردو سیمې ته روان وو، چې د اسلام اباد د شمال په ۲۴۰ کیلومترۍ کې پرته ده.

د پولیسو یوه چارواکي وکیل خان زیاته کړې چې د ژغورونکې ډلې او محلي رضاکاران د پاتې نورو کسانو د موندلو لپاره د خاورو او خټو په لرې کولو بوخت دي.

دا په داسې حال کې ده چې په پاکستان کې په دې وروستیو کې د ځمکې ښويېدنې پر پېښو سربېره، ترافیکي پېښې او د موټرو ټکرونه ډېر شوي چې گڼو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوښتې ده. پاکستاني چارواکي وايي، چې له طبیعي پېښو پرته، ډېرې ترافیکي پېښې د ناسمو لارو او د موټر چلوونکو د بې احتیاطۍ له کبله رامنځته کېږي. روانه میاشت دا څووم ځل دی چې په پاکستان کې ورته پېښې رامنځته کېږي.

## شورای مصالحهٔ ملی: ایران از روند مذاکرات صلح به رهبری و مالکیت افغان‌ها حمایت می کند




عبدالله عبدالله، رئیس شورای عالی مصالحهٔ ملی که پیش از چاشت دیروز به تهران رفت، با جواد ظریف، وزیر خارجهٔ ایران دیدار کرد. دفتر رسانه‌های شورای عالی مصالحهٔ ملی می‌گوید که در این دیدار، آقای ظریف پشتیبانی کشورش را از روند مذاکرات صلح افغانستان به رهبری و مالکیت افغان‌ها اعلام کرد.

در خبرنامهٔ دفتر آقای عبدالله آمده‌است: «آقای ظریف با حمایت از تلاش‌های صلح در افغانستان به رئیس شورای عالی مصالحهٔ ملی گفت که جمهوری اسلامی ایران از تلاش‌های صلح در افغانستان حمایت می‌کند و ما موفقیت شما را در امر صلح موفقیت خود می‌دانیم و از تلاش‌های شما برای دست‌یافتن به صلح دایمی در افغانستان به صورت همه‌جانبه حمایت می‌کنیم. آقای ظریف همچنان حمایت کشورش را از تلاش‌های منطقه‌ای برای دست‌یافتن به اجماع برای حمایت از صلح ابراز داشت.» مجیب رحیمی، مسئول رسانه‌های شورای عالی مصالحهٔ ملی گفت: «روی مذاکرات دوحه در این نشست بحث صورت گرفت. آخرین تحولات و پیشرفت‌ها در روند صلح مورد بحث قرار گرفت... طرف جمهوری اسلامی ایران پشتیبانی‌اش را از صلح افغانستان اعلام کردند.»

در همین حال آقای عبدالله نقش ایران را در مذاکرات صلح افغانستان مهم می‌داند و از این کشور می‌خواهد که به پشتیبانی‌اش از روند صلح افغانستان دوام بدهد: «هر کشور به اندازهٔ خود و در حد خود روی صلح افغانستان تأثیر دارد و از دوام جنگ در افغانستان، همه متأثر استند.»


## ژوند

## کارنده مدیران اوږدمهالي او لنډمهالي موخې لري



هوښیار خلک خپلې موخې په دوو برخو وېشي: اوږدمهالې او لنډمهالې موخې. دغه څه د دې لامل کېږي چې ټول فکر او تمرکز یې پر هغه څه وي چې د موخو په کتابچه کې یې لیکلي وي. د پیسو لگولو لپاره ستراتېژي لري؛ هوښیار خلک له هرې افغانۍ سره چې مصرفوي یې په دقت عمل کوي. بریالي مالي مدیران د واړه لگښت له پایلو هم ځان خبروي. دوی پوهېږي چې همدا واړه لگښتونه یې کومې پایلې لري. دوی د راتلونکې په اړه عجیبه وړاندوینه لري. دغه څه له دوی سره مرسته کوي چې د پیسو په مصرفولو یا نه مصرفولو کې سمه پرېکړه وکړي. که یوه شي چې یوه پرېکړه ورته په راتلونکې کې کومه گټه نه رسوي؛ بلکې پر زیان یې تمامېږي، هېڅکله هم اقدام نه کوي. له مالي متخصصینو سره سلا کوي؛ هغه کسان چې له لوړې مالي ځیرکتیا څخه برخمن دي، ځانونه ورته پروفیسران نه ښکاري او هر وخت له هغو کسانو سره چې بریالۍ مالي مخینه لري، سلا او مشورې کوي.

## سامسُنگ خپل تر ټولو ارزان بیه ۵جي موبایل معرفي کړ



سامسُنگ کمپنۍ خپل تر ټولو ارزان بیه او له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوونکی ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل گلکسي اې۴۲ نومول شوی دی. سامسُنگ کمپنۍ خپل دغه ځیرک موبایل د سپتمبر په میاشت کې معرفي کړی و او اوس یې د دغه ځیرک موبایل تصویرونه، ځانگړنې او د وړاندې کېدو نېټې په اړه معلومات نشر کړي. گلکسي اې۴۲ کې ٦،٦ انچه سوپر امولېډ ډوله مخپاڼه، د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراگن ۷۵۰ ډوله پروسېسر، ۴، ٦ یا ۸ گیگابایټه رم او ۱۲۸ گیگابایټ د فایل ثبتوني وړتیا ورکړل شوې ده. دغه ځیرک موبایل همدا راز ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري چې له ۱۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۴۸ مېگاپکسله اصلي، ۸ مېگاپکسله الټرا وايډ اېنگل، ۵ مېگاپکسله ډېپت سېنسر او ۵ مېگاپکسله مکرو کامرې په کې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې یوه ۲۰ مېگاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره لري. دغه ځیرک موبایل به د نومبر په ٦مه انگلستان کې خرڅلاو ته وړاندې شي او بیه یې ۳۴۹ پاونډه ټاکل شوې ده.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه



عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او گټې لکه: بایومتریک ننوتل-د گوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انگلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې ویستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینگه کړئ.

www.azizibank.af 1515